جمال کټوازی ۲۰۱۳/۰۹/۰۸

# جګړه ماران که تکنو کرات؟ او که دواړه ( مصلحت)؟

دا لیکنه مي په ګران هیواد افغا نستان کي د ولسمشري ټا کنو لپاره د جوړ شویو ټا کنیزو ائتلافو نه په هکله کړي، تر څو ددي ډلو ترمنځ ځا نګړي تو پیرونه په ډاګه شي.

<u>لمړي به را شو جګړه مارا نو ته:</u>

جګړه مار، هغه نظامي او سیا سي مشرته ویل کیږي، چي په یو هیواد کي د ځا نګړي سیمي واک پخپل لاس کي ولري، ځان نا پیلی بولي، د مرکزي حکومت او دهیواد د قوانینو ځان تابع نه بولي. یو جګړه مار په خپلو ګړونو کي د نورو جر مي با نډو د مشرانو سره هیڅ توپیر نه لري.

ټول افغا نان، غربي نړی او ګاونډي هیوادونه اوس په دي ښه پو هیږي، چي جګړه ماران په افغانستان کي د حکو مت کولو وړ تیا نه لري. جګړه ماران پخپله هم اوس په دي پو هیږي، چي دوئ د حکومت کولو په آز موینه کي نا کام شول او نور افغانان د جګړه مارانو ظلمونه نه شي ځغملی.

د ډاکتر نجیب الله د حکو مت د را پرځیدو او د شمالی ټلوالي د بر یا لیتوب څخه ورو سته جګړه مارانو د افغانستان په ځینیو سیمو خپلي منګولي ټینګي کړي، چي ښه بیلګه یي، احمد شاه مسعود، دوستم، عطا محمد نور، اسماعیل خان، محقیق، عبدالعلي مزاري او د اسلا مي ګوند ځیني قو مندانان لکه زرداد او داسي نور دي، چي د خپل منځي جګړو په پا ئیلوکي یي کابل ړنګ او په زرګونو بیګناه کسان یي شهیدان کړل.

نو د جګړه مارانو دا تش په نوم ټا کنیز ائتلا فونه یوازي د دي لپاره دي، چي دوئ د جهاد او مقا ومت په نا مه خپلی سیا سی او اقتصادي ګټي تر لا سه کړي او د خلکو څخه باج واخلي.

<u>تکنو کراتان:</u>

تکنو کرات کارپوه کس ته ویل کیږي او تکنو کراسي د تکنیک (فن، مسلک) څخه اخیستل شوي.

تکنوکراسي هغه اداري سیستم ته وایي، چي په هغه د مسلکي او کار پوه کسانو څخه سلاوي تر لاسه کیږي او یا هغه سیا سي نظام ته ویل کیږي، چي په هغه کي تو لي سیا سي، ټولنیزي او اقتصادي چاري د تکنوکرا ټانو (کارپوه او فني) کسا نو له خواه تر سره کیږي.

د کرزي د حکومت د راتګ سره سم په حکومت یا هم د افغا نستان په نوروټولنیزو، اقتصادي او مدني ټولنو کي ډیرتکنو کراتان لکه، اشرف غني احمدزی، احمد علي جلالي، رمضان بشردوست، فاروق وردګ، کریم خرم... په کار بو خت شول، چي په افغانستان کي دا ورستي اقتصادي، ټولنیز او سیاسی پر مختګونه د دوئ د زیار او هڅو بر کت دي.

<u>مصلحت:</u>

په افغانستان د امر یکایانود یرغل څخه وروسته، امریکا او نورو غربی هیوادونو داسي هڅي پیل کړي تر څو افغا ن جګړه ماران او تکنو کراتان د حکومت په چو کاټ کي سره را یو ځائ کړي، تر څو امریکا په آسا نه ډول خپلو موخو ته ورسیږي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

خو کوم وخت، چې د حامد کرزي تر مشرۍ لا ندي داسي يو حکومت را منځ ته شو، چي په هغه کي له يوي خواه جګړه ماران لکه، قسيم فهيم، عطانور، سياف، دوستم، اسماعيل خان او له بلی خوا څخه تکنو کرا تان لکه: اشرف غني احمدزی، علی احمد جـلالی، انوارالحق احدي، فاروق وردګ، کريم خرم اور ګډ شول.

خو ډير وخت لا تيرنه وو، چي افغان مرکزي حکومت تکنو کراتانو لکه، دهغه وخت د کورنيوو چاروزارت وزيرجلالي او په افغانستان کي د امريکا د هغه وخت سفير خليلزاد هڅي پيل کړی تر څو جګړه ماران لکه اسماعيل خان او دوستم کابل ته راولي او نوي مقا مونه ورته وسپاري، خو هغوئ دا کار د ځان لپاره يو خطر وباله او کا بل ته يي د را تګ څخه ډډه وکړه. جګړه مارانو لکه اسماعيل خان داسی هڅي پيل کړي، تر څوخپل سيميز حاکيميت نورو سيموته پراخ کړي. چي يو بيلګه يي د اسماعيل خان هڅي وی، تر څو د شينډند ولسوالي، چي ډير اوسيدونکي يي په خټه پښتنا نه دي تر خپل کنترول لاندي راولي، خو د اسماعيل خان دا هڅي د امان الله خان تر مشري لاندي د شينډنډ د اوسيدونکو له خواه د ناکامی سره مخا مخ شوی او اسماعيل خان يي په شاه وتمباوو. همدارنګه د هغه وخت د دفاع وزير جګړه مار قسيم فهيم او د هغه وخت د مالي وزير تکنوکرات اشرف عني احمدزی تر منځ هم د ملی د فاع وزارت د بو ديجي په سر ستونځي را پيدا شوي. او اشرف غني احمدزي قسيم فهيم ته خپل تيز غاشو نه ور ښکاره کړل.

د جګړه مارانو او تکنو کراتانو تر منځ د نظر او عمل نه يوالی، کرزي دي ته مجبور کړ ترڅو خپله لاره مالو مه کړي او د يوي لا بلي خواه سره خواخوږي ښکاره کړي.

خو کرزي د نورو تکنوکراتانو شتون د خپل ځان لپاره خطر وبا له، هغه داچي کرزي په خپل ځان کي دومره وړتيا نه ليدله ترڅو د ولشمري د ټا کنو پر مهال د اشرف غني، خليلزاد او داسي نورو تکنوکراتانو سره سيالي وکړي. نو هغه وو، چي کرزي د جګړه مارانو خوا خپله کړه او پخپله کرزي، قسيم فهيم او نورو جګړه مارانو د هغو خپلو ځانګړو اړويکو څخه، چي د سي آی اِ او کوچني بوش سره يي لرلي، ګته پورته کړه او په امريکا او د امر يکا په پلويانو يي زور واچاوو تر څو ټول هغه تکنو کراتان، چي دوئ ځان ته خطر بلل د دندو ګوښه کړي. هغه وو چي کرزي او جګړه مارانو ته ميدان ور خالي شوو، ترڅو دولتي ځمکي غضب او په نورو ډول ډول در غليو خپل جيبونه ډک کړي.

پای



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ